




# ستاسو سوداګرۍ، ستاسو راتلونکی!

د مهاجرمتشبثینو لپاره د سوداګرۍ پیل کولو ابتدايي لارښود






# پېژندنه

**دا لارښود د نیویارک د مهاجرینو ایتلاف او د پراټ ټولنېز پراختیا مرکز لخوا د نیویارک مهاجرمتشبثینو لپاره روښانه معلوماتو او سرچینو ته د لاسرسي د زیاتوالي د یوې برخې په توګه رامنځته شوی. دا لارښود د کیپیټل ون په مالی مرسته، د نیویارک ښار د ځوانانو او ټولنې پراختیا ریاست، د نیویارک ښار شورا او د مجلس د رئیس دفتر، د نیویارک د مهاجرت ایتلاف کلیدي ښاریز نوښت له لارې خپرول کیږي.**

خپریدل: اپریل د ۲۰۱۹

دیزاین: د بن ډود لخوا د سیډنی سیسپیډیس سال مونوز په مرسته

انځورونه د جون لی لخوا

## د نیویارک د مهاجرینو ایتلاف

د نیویارک د مهاجرینو ایتلاف یو غیر انتفاعي سازمان دی او یو پیاوړی نیویارک ایالت تصور لري ځکه چې ټولو خلکو ته ښه راغلاست وایی، عادلانه چلند کوي، او د دوی خوبونو تعقیب کولو فرصت ورکوي. دا ایتلاف مهاجرین، غړي او متحدین سره متحد کوي ترڅو ټول نیویارکیان وده وکړي.

## د پراټ ټولنېز پراختیا مرکز

د پراټ ټولنېز پراختیا مرکز ښاري پلان جوړونه، څیړنه، د پالیسی ملاتړ، او د کوچني سوداګرۍ مرستې سره یوځای کوي ترڅو د ټیټ او متوسط عاید لرونکو ټولنی ځواکمن کړي او د ټول نیویارک خلکو لپاره د یو ډیر مساوي او پایښت لرونکي ښار د دوی راتلونکي لپاره احساس کړي.

# فهرست


د سوداګرۍ پیل کول؟ هغه څه چې تاسو ارتیا لرئ پوه شئ! ..... 6

څرنګه د دې لارښود نه استفاده وکړئ؟ ..... 6

پیل کول ..... 7

د سوداګرۍ جوړښت غوره کولو لپاره لارښوونې ..... 11

۶ سوداګریز جوړښتونه ..... 15

انفرادي سوداګري ..... 16

عمومي مشارکت ..... 17

محدود شراکت ..... 19

د محدود مسؤلیت شرکت (LLC) ..... 21

شرکت (کارپوریشن) ..... 23

کارګرانو کوپراتیف ..... 26

تعریفونه ..... 27

مهم اسناد ..... 28

سرچینې ..... 29

# د نیویارک ښار د شورا رئیس، کوري جانسن پیغام

د نیویارک گران اوسیدونکی،

نیویارک ښار چې موږ یې پېژنو او مینه و رسره لرو، زمونږ د مهاجر متشبثینو پرته به هیڅ نه وي. مهاجرین د کاری ځواک ګډون او سوداګریز مالکیت لوړ نرخ سره زمونږ د محلي اقتصاد ریښې دي. په واقعیت کې، کډوال د نیویارک ښار د سوداګرۍ نیمايي برخه لري او په ۲۰۱۷ کال کې یې د ښار GDP کې ۲۲۸ ملیارده ډالر سهم درلود. خو د مهاجرینو په ځانګړې توګه متوقعه سوداګرۍ مالکینو سره د مرستې لپاره لږې سرچینې شتون لري. زه لیواله یم چې دا سرچینه (لارښود) د ښار هڅو او سرچینو کې اضافه کړم ترڅو د مهاجرینو سوداګرۍ وده کونکي سکتور ملاتړ وکړي. دا د ډاډ ورکولو لپاره یو مهم ګام دی چې موږ د نیویارک د ټولو خلکو لپاره د بریا په وړاندې د خنډونه لرې کولو ته دوام ورکوو.

په داسې وخت کې چې د نیویارک زیار ایستونکي کډوال د فدرالي حکومت لخوا تر برید لاندې دي، زه ویاړم چې د ښار شورا د دې لارښود رامنځته کولو ملاتړ وکړ. "ستاسو سوداګرۍ، ستاسو راتلونکی" د مهاجرت، سوداګرۍ او مالیاتو په برخه کې د حقوقي متخصصینو او همدارنګه د مهاجرینو خدمت کونکو ډلو او متشبثینو سره د پراخو مشورو پایله ده. په ډېرې لحاظ، دا د خپل ډول، لومړی لارښود دی. دا لارښود د نیویارک ټولو مهاجرینو لپاره چې د سوداګرۍ پرانستلو ته لیوالتیا لري مګر ډاډه نه وي چې کوم ګام پورته کړي یا حتی کوم ډول سوداګرۍ خلاص کړي، یو روښانه تګلاره او ګټور معلومات چمتو کوي.

دا لارښود نه یوازې د نیویارک د خلکو لپاره یوه مهمه وسیله ده ، مګر پدې وخت کې د هغې خپرول د شورا لخوا قوي پیغام لیږي چې د نیویارک مهاجرینو ته دلته ښه راغلاست ویل کیږي او دا چې موږ په ښار کې د دوی ډېرې ژورو مرستو ته ارزښت ورکوو. دا زما هیله ده چې دا لارښود ټول نیویارکیان وهڅوي چې بل ګام پورته کړي!

په خدمت کې،



د نیویارک ښار شورا رییس
کوری جانسن

# د اجرائیه مدیرانو پیغام

نیویارک د ۱۵۰ څخه زیاتو کلونو را هیسی د مهاجرینو لپاره د فرصتونو سرچینه ده او دوی په بدل کې د دې اقتصادی څواکمنتیا ته دوام ورکوي. مهاجرین د نیویارک د کار ځواک څلورمه برخه جوړوي او په ملیاردونو ډالره په محلي عوایدو کې مرسته کوي. مهاجرین یوازې د نیویارک کارګر ځواک نه چلوي، دوی په فعاله توګه بنه ورکوي: د نیویارک ښار له 83,000 څخه ډیر سوداګر مالکان کېدوال دي، چې د ټولو کوچنیو سوداګریزو مالکینو اکثریت جوړوي.

د نیویارک د مهاجرینو ایتلاف او د پراټ ټولنیز پراختیا مرکز ویاړي چې دا لارښود د لاس رسی سرچینې په توګه وړاندې کوي ترڅو مهاجرینو سره د بریالۍ سوداګرۍ پیل او ساتلو کې مرسته وکړي. د ټولنې پر بنسټ د ګروپونو، انکیوبټرونو، کوچني سوداګرۍ خدماتو، او قانوني چمتو کونکو پراخه شبکه شتون لري چې متشبثینو ته مهم خدمتونه وړاندې کوي، مګر ډیری یې موندلي چې موجوده مواد د لاسرسي وړ ژبه نه کاروي. دا د ټولو متشبثینو په ځانګړي توګه د مهاجرینو لپاره چې د ژبې او کلتوري خنډونو سره مخ دي یو مهمه مسله ده.

دا لارښود په څو ژبو کې د لاسرسي وړ معلوماتو چمتو کولو له لارې د مهاجرینو ځینې ځانګړي خنډونو ته د رسیدو لپاره پیل کوي. دا معلوماتی سرچینه به ټولنیز شریکانو سره چې په ساحه کې کار کوي مرسته وکړي ترڅو د مهاجرینو ټولنو لپاره مهم ملاتړي سوداګریز خدمتونه چمتو کړي. د کډوالو متشبثینو ملاتړ او هغه دندې چې دوی یې رامنځته کوي د نیویارک د ټولیز اقتصادي پرمختګ لپاره حیاتي دي او د نیویارک د ټولو اوسیدونکو لپاره به ډیر فرصتونه رامنځته کړي.


په درناوۍ



ستیف چوای

اجرائیوی رئیس

د نیویارک د مهاجرینو ایتلاف



آدم فریدمن

اجرائیوی رئیس

د پراټ ټولنیز پراختیا مرکز

# د سوداګرۍ پیل کول؟ هغه څه چې تاسو اړتیا لرئ پوه شئ!

## څرنګه د دې لارښود نه استفاده وکړئ؟

د مهاجرینو سوداګري د دې هیواد د اقتصاد ریښه ده. په نیویارک ایالت کې، مهاجرین د ځان ګمارنې تجارتونو ۳۳.۸ سلنه احصایه جوړوي چې په سوداګریز عاید کې ۷.۲ ملیارده ډالره سهم لري.[1] پداسې حال کې چې مهاجرین د متحده ایالاتو زیږیدلي اتباعو په پرتله دوه چنده ډیر امکان لري چې سوداګرۍ پیل کړي، خو لږې سرچینې چې په ځانګړې توګه د مهاجرینو سوداګرۍ مالکینو سره د مرستې لپاره وقف شوي شتون لري.[2]

**دا لارښود د مهاجرت د وضعیت په پام کې نیولو پرته، د اوسني مهاجر متشبثینو لپاره رامنځته شوی ترڅو په نیویارک ایالت کې د سوداګرۍ په ښه کولو، پیل او چلولو کې تا سو سره مرسته وکړي.** دا لارښود د یوې عمومي کتنې په توګه ترتیب شوی او هغه معلومات چې تاسو سره مرسته کوي ترڅو پریکړه وکړي چې کوم ډول سوداګریز جوړښت ستاسو لپاره سم دی، د سوداګرۍ جوړولو لپاره اړتیاوې څه دي او ځینې فیسونه او مالیات تمه لري په کې شامل دي ترڅو د سوداګرۍ لپاره آماده پاتې شئ.

دا لارښود د جوازونو اړتیاوې چې ممکن د ځانګړي صنعت یا مسلک لپاره اړین وي تر پوښښ نلري. **دا لارښود حقوقي یا مالیاتي مشوره نه ورکوي.** مهاجر متشبثین په کلکه هڅول کیږي چې د دوی د انفرادي مهاجرت وضعیت، سوداګرۍ یا مالیاتي اړتیاو او محدودیتونو په اړه حقوقي مشوره تر لاسه کړي. د نورو معلوماتو لپاره، د دې لارښود د سرچینو برخې ته مراجعه وکړئ. پدې لارښود کې معلومات د ۲۰۱۸ کال د اکتوبر میاشتې پورې دي او دلته نه تجدید کیږي.

1. [مهاجرین په نیویارک کې] (د اکتوبر ۴ کال ۲۰۱۷) د امریکا د مهاجرت شورا www.americanimmigrationcouncil.org/research/immigrants-in-new-york
2. "مهاجر متشبثینو ته د ښه راغلاست اقتصادي قضیه." (د سپتمبر ۸ کال ۲۰۱۵) کافمن بنسټ www.kauffman.org/what-we-do/resources/entrepreneurship-policy-digest/the-economic-case-for-welcoming-immigrant-entrepreneurs

# پیل کول

## مستقل قراردادي او یا کارمند؟ (ولې دا مهمه ده)

ډیری مهاجرین په متحده ایالاتو کې د ښه معاش لرونکي دندې لاسته ته راوړلو لپاره خنډونو سره مخ دي. د سوداګری مالکیت ممکن مهاجرینو ته د اقتصادي پرمختګ فرصت برابر کړي. په ځانګړې توګه، که تاسو په متحده ایالاتو کې د یو کارمند په توګه د کار کولو اجازه نه لرئ، ستاسو د سوداګرۍ پیل کول ممکن تاسو سره د ژوندانه لګښتونو برابرولو کې مرسته وکړي.

د کار ګمارونکي لپاره غیرقانوني دی چې هغه څوک استخدام کړي چې دوی پوهیږي په متحده ایالاتو کې د کار کولو اجازه نلري. هر ګمارونکي اړ دی دا تصدیق کړي چې یو کارمند د کار کولو جواز/پرمټ لري:

- د I-9 فورم ډکول
- د کارمند د پیژندنې اسناد و ارزونه (لکه سوشل سیکتورتی نمبر، ګرین کارت، پاسپورټ، او داسی نور)

داسې کوم ځانګړی فدرالي یا د نیویارک ایالت قانون شتون نلري چې مهاجر د کار له اجازې پرته د سوداګرۍ مالکیت یا د ځان ګمارل (Self-employed) شوي متشبث کیدو څخه منع کړي. ځان ګمارل شوی متشبث کله ناکله د "مستقل قراردادي" په توګه پیژندل کیږي. خپلواک قراردادیان تل اړ نه دي چې د خپلو پیرودونکو لپاره کله چې دوی یو نوی قرارداد پیل کوي د I-9 فورم ډکه کړي. که تاسو یو کاروبار د جلا حقوقی شخصیت په توګه لکه څنګه چې په دې لاربنود کې تشریح شوي جوړ کړئ، حقوقی شخصیت په خپله کولی شي سوداګری په شمول د توکو او خدماتو چمتو کول او د قراردادونو عقد کول ترسره کړي.

د یوې عملي مسلې په توګه، ډیری مهاجرین د کډوالۍ حالت نه پرته، د سوداګری پیل کولو له لارې کولای شی د ژوندانه عاید ترلاسه کړي. د یو متشبث لپاره ډیر مهمه ده چې د هغه قوانینو سره سم عمل وکړئ چې د سوداګرۍ په عملیاتو په شمول د مالیاتو کی پلي کیږي. تاسو باید پدې هم پوه شئ چې د سوداګرۍ پیل کول دولتي چارواکو او بانکونو ته د اسنادو سپارلو اړتیا لري. همدارنګه د سوداګرۍ پیل کول له متحده ایالاتو څخه ستاسو د اخراج مخه نه نیسي او قانوني وضعیت ته لاره نه برابروي. خو په ځینو حالاتو کې، د کډوالۍ په بهیر کې قاضیان ممکن د سوداګری مالکیت او د مالیاتو تادیاتو ته په ښه توګه وګوري.

## څنګه وواياست چې تاسو يو مستقل قراردادي ياست؟

دا ستونزمنه ده چې معلوم کړئ چې تاسو يو خپلواک/مستقل قراردادي ياست يا يو کارمند. تاسو بايد تل د خپلو ځانګړو شرايطو په اړه حقوقي مشوره وغواړئ.

خپلواک قراردادیان د خپل ځان لپاره په سوداګرۍ کې دي او خپلو پیرودونکو ته توکي او خدمات وړاندې کوي. هرڅومره چې تاسو نه ستاسو مراجعين، دا کنټرول کړي چې څنګه توکي يا خدمات وړاندې کوئ او د سوداګرۍ مالي موضوعات مديريت کړی، ډیر احتمال دا دی چې تاسو به د يو خپلواک قراردادي په توګه وګڼل شي نه د مراجعينو کارمند. په بله پانه کې د کارمند په مقابل کې د خپلواک قراردادي وضعيت پرتله کولو ځینې مثالونو چيک ليستونه ومومئ.

که تاسو د خپلې سوداګرۍ لپاره جلا حقوقي شخصيت يا اداره را منځته کړئ، حقوقي اداره په خپله کولی شي مشتريانو ته توکي او خدمات چمتو کړي. په عموم کې، **که تاسو د خپل کاروبار مالک ووسئ او هغه کنټرول کړئ**، تاسو ته به د يو کارمند په توګه ونه کتل شي. پدی اساس، سپارښتنه کيږي چې هغه متشبثين چې د کار اجازه نلري:

- دوی د سوداګرۍ ټول يا د پام وړ برخې مالکيت ولري، او
- د خپل کار و بار عمليات کنټرول کړي.

# کارمند یا مستقل قراردادي؟

زه د کور ساتونکي په توګه کار کوم او مختلف پیرودونکو ته خپل خدمات وړاندې کوم. زه یو ویب سایټ لرم چې د خدماتو لګښت تشریح کوي. زه د خدماتو لپاره فیس اخلم نه د ساعت په حساب معاش. پیرودونکي کولی شي زما د خدماتو غوښتنه د آنلاین ملاقات یا تلیفون له لارې وکړي. پیرودونکي خپله د پاکولو تجهیزات او وسایل چمتو کوي.

زه د یوې کورنۍ لپاره د دوشنبې څخه تر جمعې پورې د سهار له ۸ بجو نه د ماسپښین تر ۴ بجو پورې د کور ساتونکي په حیث کار کوم. د هر ساعت کار په بدل کی ۱۵ ډالره اخلم او د ژوند لګښت ساتلو لپاره هر کال د معاش لوړولو په اړه خبرې اترې کوم. هغه کورنۍ چې زه ورسره کار کوم د پاکولو ټول توکي او تجهیزات چمتو کوي. دوی ما ته د لاربښوونو سره یو یادداشت پریږدي چې هره ورځ څه باید وکړم. د اونۍ په پای کې زه ځینې وختونه د نورو کورنیو لپاره هم کار کوم چې یو څه اضافي نغدي پیسې وګټم.





| | کور ساتونکي A | کور ساتونکي B |
|---|---|---|
| د سوداګرۍ ځای/کاری دفتر درلودل | | ✓ |
| د کار په ځای کی د تأسیساتو، موادو، تجهیزاتو، او وسایلو لپاره د پام وړ پانګونه | | |
| مالی خطرات په نظر کی نیول | | ✓ |
| د خپل معاش نرخ مشخص کول او پدی اړه خبرې اترې | ✓ | ✓ |
| کولی شئ د خپلې مرستې استخدام غوره کړئ | | ✓ |
| کولائ شي د کار وړاندیزونه رد کړي | | ✓ |
| کولائ شي نورو پیرودونکو ته خدمات وړاندې کړي | ✓ | ✓ |
| څنګه، کله او چیرته کار ترسره شي کنټرول در لودل | | ✓ |
| | زه یو کارمند یم | زه یو مستقل قراردای یم |

# کارمند یا مستقل قراردادي؟

زه د یو شرکت محاسب یم کله چې دوی زما خدماتو ته اړتیا ولري. کله چې شرکت خدماتو اړتیا ولري مشخص کوي چې زه په کومو ورځو او څومره وخت لپاره کار وکړم. کله چې خدمت بشپړ شي ما ته فیس ورکول کیږي نه د ساعت په حساب معاش. کله چې پیسو ته اړتیا ولرم زه شرکت ته  انوایس لیږم. زه ډیری نورو شرکتونو لپاره چې ورته محاسبوی کارونه کوي هم کار کوم. زه د خپل کور دفتر نه کار کوم او خپل شخصی کمپیوټر کاروم.

زه د یو محاسبې شرکت لپاره په اونۍ کې 30 ساعته پارټ ټایم کار کوم او هر اونۍ معاش تر لاسه کوم. زه معمولا د خپل کمپیوټر په کارولو سره له کوره کار کوم. که وغواړم، زه کولی شم د شرکت د روغتیایی ګټو لپاره نوم لیکنه  وکړم. کله چې زه د دې شرکت لپاره کار نه کوم، ځینې وختونه د نورو کوچنیو شرکتونو څخه د کار وړاندیزونه اخلم.




| | محاسب B | محاسب A |
|---|---|---|
| د سوداګری ځای/کاری دفتر درلودل | ✓ | ✓ |
| د کار په ځای کی د تأسیساتو، موادو، تجهیزاتو، او وسایلو لپاره د پام وړ پانګونه | ✓ | ✓ |
| مالی خطرات په نظر کی نیول | ✓ | |
| د خپل معاش نرخ مشخص کول او پدی اړه خبرې اترې | ✓ | |
| کولی شئ د خپلې مرستې استخدام غوره کړئ | ✓ | |
| کولاۍ شي د کار وړاندیزونه رد کړي | ✓ | |
| کولی شي نورو پیرودونکو ته خدمات وړاندې کړي | ✓ | ✓ |
| څنګه، کله او چیرته کار ترسره شي کنټرول در لودل | | |
| | زه یو مستقل قراردای یم | زه یو کارمند یم |

# د سوداګرۍ جوړښت غوره کولو لپاره لارښوونې

اوس چې تاسو د سوداګرۍ پیل کولو هوډ کړی، اړتیا لرئ معلوم کړی چې کوم ډول سوداګرۍ ستاسو لپاره سم دی! د لارښود دا برخه د هغه مختلف انتخابونو په اړه معلومات وړاندې کوي چې تاسو یې د خپلې سوداګرۍ جوړښت لپاره لرئ.

ځینې سوداګریز جوړښتونه پیچلي قواعد لري او د پیل کولو لوړ لګښتونو او د فایل کولو معیارونه لري. نور سوداګري ممکن د جوړولو لپاره اسانه وي، آسانه طی مراحل او لږ تر لږه فیسونو ولري، خو د سوداګرۍ مالک ډیر مالي خطرسره مخامخ وي. د مناسب سوداګرۍ جوړښت غوره کولو لپاره دا مهمه ده چې په نیویارک ایالت کې د سوداګرۍ بنو په اړه ځینې اساسي موضوعاتو باندی پوه شئ.

## ستاسو د شخصي مالي منابعو ساتنه

تجارت یا کاروبار کیدای شي یو حقوقی اداره وي چې د سوداګرۍ مالک څخه جلا وي. یو حقوقی اداره لکه یو شخص، د تړونونو یا قراردادونو د عقد کولو قانوني ظرفیت لري، کولی شي قرضه ترلاسه کړي او پوروړی وي، محاکمه شي او په بل څوک د دعوا اقامه وکړي او د خپلو کړنو لپاره مسؤل وي.

کله چې سوداګرۍ یو جلا حقوقی اداره وي تاسو **محدود شخصي مسؤلیت** لرئ. د سوداګرۍ پورونو لپاره ستاسو مسؤلیت عموماً په سوداګرۍ کې ستاسو شخصي پانګوونې پورې محدود وي. که تجارت یو جلا حقوقی اداره وي او محاکمه کیږي، ستاسو شخصي شتمنی لکه کور یا موټر، په عمومي ډول د سوداګرۍ په وړاندې د ادعاوو پوښلو لپاره د ضبط کیدو څخه خوندي وي. د یوې جلا حقوقی ادارې له لارې د سوداګرۍ چلولو بله ګټه دا ده چې اداره په خپله په قانوني توګه تجارت کولی شي حتی که چیرې مالک د کار کولو اجازه و نلری یا د متحده ایالاتو څخه بهر وي.

په دې لارښود کې، موږ د لاندې حقوقی جوړښتونو لګښتونه او ګټې لنډیز کوو چې په نیویارک کې د شخصي مسؤلیت محدودولو لپاره رامنځته کیدای شي: محدود شراکت، محدود مسؤلیت شرکت او کارپوریشن.

د سوداګرۍ جلا حقوقی ادارې **محدود مسؤلیت** څخه ګټه اخیستلو لپاره:


- داډ ترلاسه کړئ چې شخصي شتمنۍ د سوداګرۍ شتمنیو څخه جلا وساتئ
- د حقوقی سوداګرۍ ادارې لپاره جلا بانکي حساب خلاص کړئ
- په قراردادونو او اعلاناتو کې د سوداګرۍ ادارې نوم وکاروئ (د خپل نوم پرځای)
- د مالیاتي پیژندنئ جلا شمیره (EIN) ترلاسه کړئ او د خپل سوداګرۍ لپاره کله چې اړتیا وي جلا مالیه فایل کړئ.

## ITIN څه شی دی؟

کله چې تاسو عاید ترلاسه کړئ مکلف یاست چې مالیه ورکړئ. د انفرادي مالیه ورکوونکي پيژندنې شمیره (ITIN) د داخلي عوایدو خدماتو (IRS) لخوا هغو خلکو ته صادریږي چې د سوشل سیکتورټی نمبر ترلاسه کولو وړ نه وي مګر مالیه باید ثبت کړي. که تاسو سوشل سیکورټی نمبر (SSN) لرئ د ITIN ترلاسه کولو لپاره وړ نه یاست. ستاسو SSN تل د مالیه ورکولو لپاره اعتبار لري حتی که ستاسو د کار اجازه پای ته ورسیږي. همدارنګه کولی شئ د ډیری مالي خدماتو ترلاسه کولو لپاره په شمول د پور لاس ته راړل او د بانکي حساب خلاصول پرته لدې چې د کډوالۍ حالت ته پام وکړئ د ITIN څخه کار واخلی. د لا زیاتو معلوماتو لپاره، ستاسو پیسې، ستاسو راتلونکی لارښود وګورئ! د مالي زده کړې او ځواکمنتیا لپاره ابتدایی لارښود یوه سرچینه ده چې د مهاجرینو سره د شخصي مالي انتخابونو په پوهیدو کې مرسته کوي.

## EIN څه شی دی؟

د فدرال او نیویارک ایالت د مالیاتی موخو لپاره، هر هغه سوداګرۍ چې کارمندان لري باید د کار ورکوونکي د پيژندنې شمیره (EIN) ترلاسه کړي. شرکتونه او ډیری محدود مسؤلیت شرکتونه (LLCs) باید EIN ترلاسه کړي. عموما، بانکونه د سوداګرۍ لپاره د بانکي حساب پرانیستلو لپاره EIN ته اړتیا لري. د EIN ترلاسه کولو لپاره، یو سوداګر کولی شي فورم SS-4 ("د کار ورکوونکي د پيژندنې شمیرې لپاره غوښتنلیک") IRS ته وسپاري یا د تلیفون یا آنلاین له لارې غوښتنه وکړي.




## خپل د سوداګرۍ مالیاتی مکلفیتونه درک کړئ


د کډوالۍ وضعیت نه پرته، هرڅوک چې په متحده ایالاتو کې عاید ترلاسه کوي باید فدرالي، ایالتي او محلي حکومت ته مالیه ورکړي. د مالیاتو معیارونه په ډیری فکتورونو پورې اړه لري لکه دا چې آیا تاسو د یو انفرادی شخص یا واده شوي کس په توګه ټکس فایل کوئ، کلنئ عاید، او په نیویارک ایالت کې چیرته اوسیږئ اړه لري.

عموما، هر څومره چې ستاسو د سوداګرۍ جوړښت ساده وي ستاسو د مالیې اړتیاوې ممکن ساده وي. ځینې سوداګریز جوړښتونه شتون لري چې تاسو ته اجازه درکوي تر سو خپل سوداګریز عاید خپل شخصي عاید (شخصی تکس ریترن) سره یو ځای راپور ورکړئ چې کولی شي د سوداګرۍ مالکینو لپاره د مالیې چمتو کول اسانه کړي.

**په یاد ولرئ چې دا لارښود د مالیي مشورې ورکولو لپاره ندي. متشبثین هڅول کیږي چې د وړ مالیي مسلکي شخص څخه د مالیاتو مشوره وغواړي.** د سرچینو په برخه کی هغه سازمانونو ته هم اشاره شوي چې ممکن د سوداګرۍ په اړه د مالیاتو پوښتنو کې د مرستې لپاره وړ وي.

# د دوه سوداګریو مقایسه

## د محدود مسؤلیت شرکت*





دري ملګري په ګډه د سرسبزۍ خدماتو (landscaping) سوداګري پیل کوي. دوی خپل کاروبار د محدود مسؤلیت شرکت (LLC) په توګه راجستر کوي. د دوی LLC یو جلا حقوقي شخصیت دئ.

هر غړی دشرکت د پیل لګښتونو لپاره ۴۰۰ ډالره پانګونه کوي او شرکت د بانک **څخه سوداګریز** پور ترلاسه کوي.




سوداګري ناکامه کیږي او د څو میاشتو وروسته د 8,000 ډالرو پور سره ترل کیږي.





زیان د محدود مسؤلیت شرکت هر غړی ته د ۴۰۰ ډالرو او د سوداګرۍ نورې شتمنۍ پورې محدود دی.



د سوداګرۍ مالکین په شخصي توګه د LLC پورونو لپاره مسؤل ندي او د دوی شخصي شتمنۍ خوندي دي.

## انفرادي سوداګری




یو انفرادي سوداګر د سرسبزۍ خدماتو (landscaping) سوداګری پیل کوي. هغه او د هغې سوداګرۍ د قانون له مخې یو حقوقي شخصیت ګڼل کیږي.

سوداګر د خپل سپما څخه ۴۰۰ ډالر پانګونه کوي او د نوي سوداګرۍ د تجهیزاتو پیرودلو لپاره د **شخصي** کریډیټ کارت نه استفاده کوي.




سوداګري ناکامه کیږي او د کریډیټ کارت 8,000 ډالره پور سره ترل کیږي.




انفرادی سوداګر/مالک ۴۰۰ ډالره ابتدایی پانګونه له لاسه ورکوي او اوس د 8,000 ډالرو کریډیټ کارت پور او سود د بیرته ورکولو مسؤلیت هم لري.



که هغه پور بیرته ورنکړي، د کریډیټ کارت شرکت به د هغې شخصي شتمنیو په شمول د هغې موټر، کور او شخصي سپما پسې راشي ترڅو پور تادیه کړي!

*موږ په دې مثال کې یو LLC ته اشاره کړې وه، خو د سوداګریو نور ډولونه چې وروسته په دې لارښود کې پرې بحث شوي هم شخصي مسؤلیت محدودوي.

# ۶ سوداګریز جوړښتونه

په نیویارک ایالت کې د سوداګرۍ مالکیت شپږ عام ډولونه شتون لري چې مهاجر متشبثینو پورې مرتبط دي. دا سوداګریز جوړښتونه په لاندې ډول دي:

- **انفرادي سوداګرۍ**
- **عمومي مشارکت**
- **محدود شراکت**
- **د محدود مسؤلیت شرکت (LLC)**
- **شرکت (کارپوریشن)**
- **کارګرانو کوپراتیف**

دا لارښود د لومړي پنځه سوداګریز جوړښتونو عمومي کتنه وړاندې کوي. یو کوپراتیف د شراکت، LLCs، یا شرکتونو لخوا تأسیس کیدای شي. پدې اساس د کوپراتیف ځانګړي جوړښت ته په کتو سره، دا لارښود د کوپراتیف لپاره د سوداګرۍ اړتیاو او مکلفیتونو په اړه توضیحات نه ورکوي. د کوپراتیفونو په اړه د نورو معلوماتو لپاره د سرچینو برخه وګورئ.

# انفرادي سوداګرۍ

انفرادي سوداګرۍ/تجارت د سوداګرۍ ترټولو ساده جوړښت دی چې تاسو يې د سوداګرۍ چلولو لپاره کارولی شئ او د رامنځته کولو ترټولو اسانه جوړښت دی. که تاسو خدمتونه یا توکي پلورلي وي حتی پرته له دې چې دولت ته مو کوم اسناد ورکړی وي، ممکن تاسو دمخه يو انفرادي سوداګر ووسئ. د انفرادي سوداګرۍ پیل لګښتونه ټیټ دي ځکه چې تاسو اړتيا نلرئ فيس ورکړئ يا فورمې وسپارئ لکه څنګه چې د نورو سوداګريزو جوړښتونو لپاره اړين دي. همدارنګه کولای شئ خپل تجارتي عايد خپل شخصي عايد ټکس ريټرن له لارې فايل کړی چې د مالیي چمتو کول يې نسبتا ساده دي.

## د انفرادي سوداګرۍ یا تجارت خلاصه

| | | |
|---|---|---|
| د مالکينو شمير | **يو مالک** | انفرادی شخص د سوداګرۍ يوازينی مالک دی. |
| پيلول | **د پيل کولو لپاره ترټولو اسانه** | کله چې تاسو د سوداګرۍ فعاليتونه پيل کړئ، تأسيس کيږي. |
| فيسونه / فورمې | **هيڅ تر لږه** | (اختياري) د فايل کولو نورمال فيس د مؤقت نوم سرتيفکيت لپاره که چيرې د تجارت نوم د مالک نوم څخه توپير ولري. دا فيس د هر ناحيي له مخې توپير لري. |
| د مالياتو ترتيبول | **ډيرساده** | سوداګريزعايد خپل شخصي عايد ټکس ريټرن کې راپور ورکوي. |
| مالی مسؤليت | **لوړ شخصي مالي خطر** | د سوداګرۍ مالک د سوداګرۍ ټول پورونو او مکلفيتونو مسؤل دی او شخصي شتمنی يې په خطر کې دئ. |
| دوامداره شرايط | **دوامداره تجديد/فايل کولو نه شتون** | د يو انفرادی سوداګرۍ ساتلو لپاره اړتيا نلرئ کومي دولتي اداري ته اضافي فايلونه وسپارئ. |
| ښه دی لپاره | بريښنايي ترميم خدمتونه، سرسبزۍ خدمات (landscaping)، د کور ساتونکي، ښوونکي، ليکوالان او هنرمندان | |

# عمومي مشارکت

عمومي شراکت د دوه یا ډېرو مالکینو لپاره چې د مالي مسؤلیت یا خطر شریکولو په لټه کې دي او د سوداګرۍ پریکړې سره یوځای کوي، ښه انتخاب دئ. دا د سوداګرۍ هغه مالکینو لپاره ښه کار کوي چې پر یو بل باور لري ځکه چې هر شریک د نورو شریکانو لخوا د پریکړو مسولیت لري.

د یو انفرادي سوداګرۍ په څیر، د عمومي شراکت جوړولو لپاره لږ یا کاغذی طی مراحل شتون نلري. که چیرې تاسو د بل فرد سره په سوداګریز فعالیتونو کې بوخت یاست او خپل ځان مو په سوداګرۍ کې د شریکانو په توګه ساتلی وي، تاسو ممکن دمخه په عمومي شراکت کې یاست. تأکیداً سپارښتنه کیږي چې شریکان باید د شراکت تړون رامنځته کړي. دا یو مهم سند دی چې د هر شریک حقوق او مسؤلیتونه څه دي، هر شریک څومره پانګه اچونه کوي، او شریکان څنګه ستونزې حل کوي تشریح کوي. پرته لدې چې د شراکت تړون کی بل ډول ذکر شوئ وي، ټولې ګټې او زیانونه به په مساوي ډول د شریکانو ترمنځ وویشل شي. **د شراکت تړون په جوړولو کې تاسو باید حقوقی مرسته وغواړئ.**

څرنګه چې د انفرادي سوداګرۍ په مورد کی ذکر شو، شخصي شتمنی په عمومي شراکت کې خوندي ندي، او د یو شریک شخصي شتمنی د بل شریک لخوا د کمزورې پریکړو په پایله کې د خطر سره مخامخ کیدی شي.

## د شراکت تړونونه

د شراکت تړون یو مهم سند دی چې د سوداګرۍ په اړه د هر شریک حقونه او مسؤلیتونه په ګوته کوي. د مشارکت تړونونه د عمومي شراکتونو لپاره په کلکه وړاندیز شوي او د محدود شراکت لپاره اړین دي. د شراکت تړون لاندې پوښتنې ځوابوي:

- هر شریک څومره پانګونه کوي؟
- د هر شریک مسؤلیتونه څه دي؟
- شریکان به څنګه پریکړې کوي؟
- شریکان به څنګه ګټه او تاوان شریکوي؟
- شریکان به څنګه شخړې حل کوي؟
- کله چې یو شریک پریکړه وکړي چې سوداګرۍ پریږدي یا په سوداګرۍ کې خپل ونډه وپلوري، څه پیښیږي؟

## د عمومي مشارکت خلاصه

| | | |
|---|---|---|
| د مالکینو شمیر | ۲ + مالکان | شریکان د سوداګرۍ مالکیت لري. |
| پیلول | د پیل کولو لپاره ترټولو اسانه | کله چې تاسو د سوداګرۍ فعالیتونه پیل کړئ، تأسیس کیږي. |
| فیسونه / فورمې | هیڅ تر لږه | (اختیاري) د فایل کولو نورمال فیس د مؤقت نوم سرتیفکیت لپاره که چیرې د تجارت نوم د مالک نوم څخه توپیر ولري. د شراکت تړون شتون په کلکه سپارښتنه کیږي. |
| د مالیاتو ترتیبول | ډیرساده | شریکان سوداګریزعاید خپل شخصي عاید تکس ریترن کی راپور ورکوي. یو معلوماتی فورم د شراکت په مورد کې تکس ریترن سره فایل کیږي. |
| مالی مسؤلیت | لوړ شخصي مالي خطر | هر شریک ممکن د نورو شریکانو د کړنو لپاره په شخصي توګه مسؤل وي. شخصي شتمنی په خطر کې دي. |
| دوامداره شرایط | دوامداره تجدید/فایل کولو نه شتون | د یو شرکت حقوقی وضعیت ساتلو لپاره اړتیا نلرئ کومې دولتي اداري ته فایلونه وسپارئ. |
| ښه دئ لپاره | کورنی سوداګرۍ • هغه شریکان چې اوږدمهاله اړیکې لري او پر یو بل باور لري. | |

# محدود شراکت

په محدود شراکت کې، دوه ډوله مالکين شتون لري، يو عمومي شريک او يو محدود شريک. **عمومي شريک** د يو مالک په څير کار کوي لکه چې انفرادی سوداګرئ وی يا عمومي شراکت لري او د محدود شراکت سوداګری اداره کوي، معاملې کوي، پريکړې کوي او د شراکت په استازيتوب عمل کوي.

**محدود شريک** يو غير فعال پانګه اچونکی دی. محدود شريکان پانګونه کوي او خپل د برخی ګټې ترلاسه کوي، مګر دوی نشي کولای د سوداګری ورځني عمليات اداره کړي يا د شراکت په استازيتوب عمل وکړي. د عمومي شريکانو برعکس، د محدود شريک شخصي شتمنی خوندي دي. د محدود شريکانو مسؤليت په سوداګری کې د پانګه اچول شوي پيسو پورې محدود وي.

محدود شراکت د يو انفرادی سوداګرئ يا عمومي شراکت په پرتله د پيل کولو لپاره ډير کار ته اړتيا لري ځکه چې تاسو بايد د نيويارک د بهرنيو چارو وزارت (DOS) سره اسناد فايل کړئ او اړوند فيسونه ورکړئ. دا سوداګريز جوړښت د هغو مالکينو لپاره ښه دی چې پانګه اچوونکي (Investors) لري چې نه غواړي سوداګری پرمخ بوځي يا د عمومي شريک سوداګريزو پريکړو مسوليت په غاړه واخلي. د محدود شراکت شرايط بايد د شراکت په تړون کې مستند ذکرشي (17 مخ وګورئ).



## په ورځپانه کی اعلان

محدود شراکتونه او د محدود مسؤليت شرکتونه اړ دي چې د سوداګری تأسيس د شپږو اونيو لپاره په دوه جلا ورځپاڼو کې پرله پسې خپور کړي. د هر ناحيې په پرتله، د اعلان خپرولو لګښتونه په ورځپاڼو کی ممکن ګران وي.

| محدود شريک | عمومي شريک |
|---|---|
| پيسي پانګونه کوي او د ګټي برخه يي ترلاسه کوي | پيسي پانګونه کوي او د ګټي برخه يي ترلاسه کوي |
| سوداګری اداره کوي او پريکړې کوي | د سوداګری اداره نه کوي |
| د شراکت په استازيتوب عمل کوي | د شراکت په استازيتوب عمل نشي کولی |
| د سوداګری پوروونو لپاره شخصاً مسؤل دئ. (د سوداګری مالک کولی شي يو جلا حقوقی اداره جوړ کړي ترڅو د عمومي شريک په توګه عمل وکړي او محدود مسؤليت رامنځته کړي، خو دا پيچلتيا لا زياتوي.) | شخصي شتمنی خوندي دي. مالي خطر لومړنی پانګوني پورې محدود دی. |

## د محدود شراکت خلاصه

| | | |
|---|---|---|
| د مالکینو شمیر | ۲ + مالکان | دوه ډوله مالکین شتون لري او لږترلږه یو یو ته اړتیا لري: یو عمومي شریک او یو محدود شریک. |
| پیلول | د پیل کولو لپاره ډیرې هڅې ته اړتیا لري | د تأسیس لپاره اړین اسناد:<br>◀ د محدود شراکت سرتیفیکیټ<br>◀ د اعلان خپریدو سند او د خپروني سوګند (د ورځپاڼې له خپریدو وروسته) |
| فیسونه / فورمې | په منځنۍ توګه ګران | ۲۰۰ ډالره د فایل کولو فیس، ۵۰ ډالره د اعلان خپریدو د فایل کولو فیس، او د ورځپاڼې د خپرولو عادی لګښت د ۱۲۰۰-۶۰۰ ډالرو پورې. د شراکت تړون ته اړتیا ده. |
| د مالیاتو ترتیبول | ډیرساده | سوداګریزعاید خپل شخصي عاید ټکس ریترن کی راپور ورکوي. یو معلوماتی فورم د شراکت په مورد کي تکس ریترن سره فایل کیږي. |
| مالی مسؤلیت | د عمومي شریکانو لپاره لوړ شخصي خطر | هر عمومي شریک په شخصي توګه د سوداګرۍ پورونو لپاره مسؤل دی. د محدود شریک مسؤلیت د پانګونی حده پوری محدود وي. |
| دوامداره شرایط | هو | لیکلي شراکت تړون ته اړتیا ده او باید د عمومي شریکانو لخوا لاسلیک شي. |
| ښه دئ لپاره | متشبثین چې شریکان لري چې غواړي پانګه اچونه وکړي خو نه غواړي په پریکړو کې ښکیل وي یا شخصي مسؤلیت ولري. | |

# د محدود مسؤلیت شرکت

د محدود مسؤلیت شرکت (LLC) لویه ګټه داده چې د انفردای سوداګرۍ او شراکت جوړښتونو په پرتله محدود شخصي مسؤلیت یا تیټ مالي خطر مالکانو ته وړاندې کوي. د قانون له مخې، سوداګرۍ د سوداګرۍ مالک څخه جلا حقوقي شخصیت ده او ټول مالکین د خپلو شخصي شتمنیو ساتنه ترلاسه کوي. د محدود مسؤلیت ساتلو لپاره، مالکین باید د LLC لپاره جلا بانکي حساب پرانیزي، په LLC کې کافي اندازه پانګه واچوي ترڅو خپل لګښتونه تأدیه کړي، خپل شخصي شتمنۍ د سوداګرۍ شتمنیو سره ګډ نکړي او د شخصي لګښتونو لپاره د LLC فنډ نه استفاده و نکړي.

مالکین، چې په LLC کې د غړو په نوم هم پیژندل کیږي کولی شي پخپله د سوداګرۍ مدیریت وکړي یا مدیران وټاکي. مدیران کارمندان ګڼل کیدای شي او په پایله کې باید د کار کولو واک ورکړل شي. **پدې برخه کې قانون ناڅرګند دی، خو هغه کسان چې د کار کولو اجازه نلري باید د LLC مدیر په توګه د ټاکل کیدو دمخه حتی که د LLC مالکین هم وي حقوقي مشوره ترلاسه کړي.**

د LLC غړي کولی شي د تأسیس په وخت کې غوره کړي چې څنګه په LLC باندې مالیه وضع شي. احتمالاً مالکین کولای شي خپل تجارتی عاید شخصی عاید سره یوځای په ټکس ریټرن کې فایل کړي مګر دا چې IRS ته مخکې فایل وړاندې شوی چې په LLC باندې لکه شرکت/کارپوریشن مالیه وضع شي. **د LLC غړي باید د انتخابونو په اړه د ټکس متخصص څخه مشوره وغواړي.**

## عملیاتي تړون

عملیاتي تړون یو مهم سند دی چې د LLCs لخوا کارول کیږي او د غړو، مدیرانو، کارمندانو او اجنټانو حقوق، واکونه او مسؤلیتونه ټاکي. عملیاتي تړون ممکن د شرکت د اساسنامی فایل کولو څخه دمخه، په جریان کې یا ۹۰ ورځو کی دننه لاسلیک شي.

# د محدود مسؤلیت شرکت خلاصه

| | | |
|---|---|---|
| د مالکینو شمیر | ۱ + مالکان | LLCs کولی شي یو غړی مالک یا ډیری غړي ولري چي د LLC مالکیت لري. |
| پیلول | د پیل کولو لپاره ډیرې هڅې ته اړتیا لري | د تأسیس لپاره اړین اسناد:<br>◄ اساسنامه<br>◄ د اعلان خپریدو سند او د خپروني سوگند (د ورځپاڼي له خپریدو وروسته) |
| فیسونه / فورمي | گران | ۲۰۰ ډالره د اساسنامی د فایل کولو فیس، ۵۰ ډالره د اعلان خپریدو د فایل کولو فیس، او د ورځپاڼي د خپرولو عادی لگښت د ۱۲۰۰-۶۰۰ ډالرو پوری. عملیاتي تړون ته اړتیا ده. |
| د مالیاتو ترتیبول | په منځنۍ توگه پیچلي | یو LLC د سوداگری جوړښت او د غړو شمیر پراساس ډیری مختلف انتخابونه لري. |
| مالی مسؤلیت | ټیټ مسؤلیت / مالي خطر | سوداگری د سوداگری مالک (مالکینو) څخه جلا حقوقی شخصیت دئ. مالکین محدود مالی مسؤلیت لري او ددوی مسؤلیت یوازی په سوداگری کي پانگه اچول شوي مقدار پوري محدود وي. |
| دوامداره شرایط | هو - دوامداره ریکارډ ساتل | ◄ د بنسټ سرټیفیکیټ د فایل کولو نه وروسته ۹۰ ورځو کی دننه د عملیاتي تړون تصوییبول.<br>◄ (اختیاري) د غړو / مدیرانو غونډي ترسره کول<br>◄ د LLC ځینې ریکارډونه او مالیاتی اسناد وساتئ<br>◄ په هرو ۲ کلونو کې د پټي تائید / تازه کولو لپاره بیان ثبت کړئ |
| بنه دئ لپاره | هغه مالکین چې غواړي خپل شخصي سپما او مالیات د سوداگری څخه جلا وساتي او روان اړتیاوی اداره کړي. | |


# شرکت/کارپوریشن

یو شرکت معمولاً د لوی سوداګرۍ او د ډیرو مالکینو لپاره کارول کیږي ځکه چې دوی د سهم/ونډه د خپرولو وړتیا لري. ونډه په شرکت کې د ملکیت استازیتوب کوي. د شرکت جوړول د پام وړ اسناد، دوامدار لګښتونه او حقوقي اړتیاوې لري.

هر شرکت باید اساسنامه، مدیره هیئت، او آفیسران ولري. وروسته له دې چې شرکت جوړ شي، ونډه اخیستونکي باید د اساسنامې او د رئیسانو د ټاکلو لپاره تنظیمي غونډه جوړ کړي. کارپوریشن د یو متشبث لپاره چې غواړي کوچنۍ سوداګرۍ پیل کړي ښه جوړښت ندئ. یو LLC کولائ شي د کوچني سوداګرۍ مالک لپاره د کارپوریشن ټولې ګټې د لږ پیچلتیا، ډیر انعطاف او اسانه ساتنې سره وړاندې کړي.

برسېره پردې، د کارپوریشن جوړښت عموماً د مهاجر متشبثینو لپاره چې د کار کولو اجازه نلري خطرناک دی. که چیرې متشبثین د شرکت د آفیسر په توګه سوداګرۍ پرمخ وړي، یا د شرکت لخوا معاش ورکول کیږي، دوی به احتمالا یو کارمند وګڼل شي. د دې لپاره چې ډاډ ترلاسه کړئ چې ستاسو سوداګرۍ د ټولو نافذه قوانینو په شمول د ایالتي او فدرالي مالیاتو قوانین سره سم جوړ شوی او پرمخ وړل کیږي، ډاډ ترلاسه کړئ چې د بزنس پلان د جوړولو په وخت کې حقوقي مشوره او مشاور ترلاسه کړئ. د شرکتونو مالیاتي پروسه پیچلې او د دې لارښود له دائرې څخه بهر دئ.

## د کارپوریشن جوړښت




څوک چې په شرکت کې یې ونډې/سهام اخیستي وي، د مالکیت فیصدي یې په دې اساس ټاکل کیږي چې څومره سهام لري. کله چې شرکت جوړ شي، معمولا د هغې مالکین لومړی ونډه لرونکي وي.

مدیره هیئت بورډ د اشخاصو یوه ډله ده چې د سهمدارانو د ګټو د استازیتوب لپاره ټاکل کیږي. رئیسان هم ونډه اخیستونکي کیدی شي خو اړین ندي. بورډ باید لږترلږه یو رئیس ولري. مدیره هیئت د نظارت مسؤلیت لري، او د شرکت لوی مسلو په اړه پریکړې کوي.

آفیسران د سوداګرۍ ورځني عملیاتو مسؤلیت لري او د سوداګرۍ اړوند فعالیتونو عمل کولو واک لري. **آفیسران ممکن د قانون له مخې کارمندان وګڼل شي او په متحده ایالاتو کې د کار کولو لپاره د دوی قانوني وضعیت ثابتولو ته اړتیا لري.**

## د شرکت/کارپوریشن خلاصه

| | | |
|---|---|---|
| د مالکینو شمیر | ۱ + مالکان | شرکتونه معمولا ډیری مالکین لري چې د ونډې اخیستونکو په نوم پیژندل کیږي، خو یوازې د یو ونډه اخیستونکي لخوا هم رامنځته کیدای شي. |
| پیلول | د پیل کولو لپاره ډیری هڅې ته اړتیا لري | د شرکت د تأسیس سرټیفیکیټ ثبتولو وروسته تنظیمي ناسته باید ترسره شي ترڅو اړین اساسنامې تصویب کړي او د رئیسانو بورډ انتخاب کړي. |
| فیسونه / فورمی | ډیر ګران | د شرکت د تأسیس سرټیفیکیټ ثبتولو لپاره ۱۲۵ ډالره فیس اړین دی. یو شرکت به احتمالا د حقوقی او/یا محاسبې فیسونو لپاره د پام وړ لګښتونو ولري. |
| د مالیاتو ترتیبول | ډیر پیچلی | د سوداګرۍ مالکین هڅول کیږي چې د ټکس مسلکي شخص سره مشوره وکړي ترڅو د مالیاتو په مکلفیتونه پوه شي. |
| مالی مسؤلیت | ډیر ټیټ مسؤلیت / مالي خطر | تجارت د سوداګرۍ مالک (مالکینو) څخه جلا حقوقی شخصیت دئ. د مالکینو مسؤلیت یوازی په سوداګری کی د دوئ مالي پانګه اچونئ پورې محدود وي. |
| دوامداره شرایط | هو - سخت دوامداره اړتیاوې | ◀ کلنۍ او ځانګړي ونډه اخیستونکو غونډې<br>◀ د مدیره هیئت منظم او ځانګړي غونډې<br>◀ د جلساتو او شرکت ریکارډونه او مالیاتي اسناد وساتئ<br>◀ په هرو ۲ کلونو کې د پتې تائید / تازه کولو لپاره بیان ثبت کړئ |
| ښه دئ لپاره | لوی کاروبارونه د ډیری مالکینو سره چې ډیرې پانګونې ته اړتیا لري او غواړي ونډې خپور او وپلوري. | |

# چټک پرتله کول - کوم سوداګریز جوړښت ستاسو لپاره سم دی؟


| | انفرادي سوداګری | عمومي مشاركت | محدود شراکت | د محدود مسؤلیت شرکت (LLC) | شرکت (کارپوریشن) |
|---|---|---|---|---|---|
| د مالکینو شمیر | ۱ مالک | ۲ + مالکین | ۲ + عمومي او محدود شریکان | ۱+ غړي | ۱+ ونډه لرونکی |
| پیلول | آسانه 🟢 | آسانه 🟢 | په منځنۍ توګه ستونزمن 🟡 | په منځنۍ توګه ستونزمن 🟠 | ډیر مشکل 🔴 |
| فیسونه / فورمې | هیڅ/لږ 🟢 | هیڅ/لږ 🟢 | په منځنۍ توګه ګران 🟡 | په منځنۍ توګه ګران 🔴 | ډیر ګران 🔴 |
| د مالیاتو ترتیبول | ډیرساده 🟢 | متوسط 🟢 | متوسط 🟢 | منځنۍ تر پیچلی 🟠 | ډیر پیچلی 🔴 |
| مالی مسؤلیت | لوړ 🔴 | لوړ 🔴 | د عمومي شریکانو لپاره لوړ 🔴 | محدود 🟢 | محدود 🟢 |
| دوامداره شرایط | هیڅ 🟢 | هیڅ 🟢 | ځینې 🟡 | ځینې 🟠 | پراخ 🔴 |

# کارګرانو کوپراتیف

د کارګرانو کوپراتیف یو نوښتګر سوداګریز ماډل دی چې کارګران د سوداګرۍ مالکیت لري او کوپراتیف اداره کوي. کارګران معمولاً په کوپراتیف کې د غړیتوب لپاره لومړنۍ مالي سهم اخلي او په پایله کې د ګټې متناسب برخه ترلاسه کوي. په دې ماډل کې، هر کارګر د مهمو سوداګریزو پریکړو لکه د پورونو تصویب، قراردادونو او د نویو غړو منلو په اړه د رایې ورکولو ورته ځواک لري.

یو کوپراتیف د هر هغه سوداګریز جوړښت چې پدې لارښود کې تشریح شوي په شمول د شراکت، LLC، یا کارپوریشن لخوا رامنځته شي. کوپراتیفونه عموماً LLC جوړښت کاروي ځکه چې دا جوړښت انعطاف منونکی دی او د شرکت په پرتله د جوړولو او ساتلو لپاره ټیټ لګښتونو ته اړتیا لري او د شراکت په نسبت د لوی مالکینو لپاره ښه انتخاب دئ. د LLC جوړښت کوپراتیف د غړو لپاره محدود مسؤلیت وړاندې کوي. کوپراتیفونه کولی شي د قانوني حالت پرته د مهاجرینو په ساتنه کې کله چې په انفرادي توګه کار کوي د معاش غلا یا نورو ناوړه ګټه اخیستنې څخه مرسته وکړي.

د نیویارک ایالت د کارګری کوپراتیف کارپوریشن ځانګړی قانون لري چې د غړیتوب، ونډو او د ګټې او زیانونو ویش پورې اړوند ځانګړي حالت او مقرراتو سره رامنځته شوی. د نورو معلوماتو لپاره، مهرباني وکړئ د دې لارښود د سرچینو برخې ته مراجعه وکړئ.



# تعریفونه

### سوګند
یو لیکل شوی او لاسلیک شوی بیان دی چې د هغه چا لخوا تائید شوی وي چې د قانون پر بنسټ د تائید اجازه ولري، لکه نوټر.

### مدیره هیئت
مدیره هیئت بورډ د اشخاصو یوه ډله ده چې د سهمدارانو د ګټو د استازیتوب لپاره ټاکل کیږي، د عمومی نظارت مسؤلیت لري او د شرکت لوی مسلو په اړه پریکړې کوي.

### پیرودونکي/مشتري
یو شخص یا سوداګری چې د مستقل قراردادي څخه خدمتونه ترلاسه کوي.

### متشبث
هغه څوک چې خپل کاروبار تنظیموي او چلوي.

### ګمارونکی
یو شخص یا کاروبار چې د بل کس د معاش او دندي وضعیت مسؤل دی.

### د انفرادي مالیه ورکوونکي د پیژندنې شمیره (ITIN)
یو شمیره ده چې د داخلي عوایدو خدماتو اداره (IRS) لخوا هغه خلکو ته صادریږي چې د سوشل سیکیورټي شمیرې لپاره وړ ندي خو ټکس ورکولو ته اړتیا لري.

### داخلي عوایدو خدماتو اداره (IRS)
د فدرالي حکومت اداره چې د فدرالي مالیاتو راټولولو مسؤلیت لري.

### مالي مسؤلیت
د قانوني یا مالي مسؤلیت مقدار یا خطر چې د سوداګری سره تړاو لري.

### غړی
د محدود مسؤلیت شرکت (LLC) مالکین د غړو په توګه نومیږي.

### آفیسران
آفیسران د شرکت ورځني عملیات پرمخ وړي. د مدیره هیئت لخوا ټاکل شوي افسران ممکن د شرکت بنسټ ایښودونکي/مالکین او ځیني کارمندان هم وي.

### شراکت
د سوداګرۍ جوړښت چې دوه یا ډیر افراد د سوداګرۍ مالکیت لري. په عمومي شراکت کې، شریکان د مدیریت مسؤلیتونه او د سوداګرۍ ګټې او زیانونه شریکوي. په محدود شراکت کې ځیني شریکان سوداګرۍ اداره کوي او ځیني شریکان یوازې په سوداګرۍ کې پانګونه کوي مګر ټول شریکان د سوداګرۍ مالکین دي.

### مالکیت
د سوداګرۍ خاوند.

### ونډه اخیستونکي
ونډه اخیستونکی هغه څوک دی چې په یوه شرکت یا کارپوریشن کې یې ونډې/سهم اخیستي وي. ونډه اخیستونکي په شرکت کی د پانګې په تناسب برخه لري.

# مهم اسناد

## اساسنامه
یو سند دئ چې د محدود مسؤلیت شرکت (LLC) نوم، ناحیه او آدرس چې د LLC تأسیس لپاره اړین دي بیانوي. LLC د اساسنامې د فایل کولو په وخت کې یا په کوم بل وخت کې چې په اساسنامه کې مشخص شوي وي، د فایل کولو نیټې چې د ۶۰ ورځو څخه ډیر نه وي را منځته کیږي.
*د بهرنیو چارو وزارت ته سپارل کیږي*
◀ محدود مسؤلیت شرکت

## دوه کلن بیان
په هر دوو کلونو کې د نیویارک محدود مسؤلیت شرکتونه او کارپوریشنونه اړ دي چې دوه کلن بیان ثبت کړي او د سوداګرۍ آدرس تائید یا تازه کولو لپاره ۹ ډالره د فایل کولو فیس ورکړي.
*د بهرنیو چارو وزارت ته سپارل کیږي*
◀ محدود مسؤلیت شرکت ◀ کارپوریشن

## اساسنامې
یو لیکل شوی سند دئ چې شرکت به څنګه کار وکړي تشریح کوي. پدې معلوماتو کې مدیران به څنګه ټاکل کیږي، څنګه غونډې ترسره کیږي، او د شریکانو، مدیره هئیت او آفیسرانو حقوق، دندې او واکونه شامل دي.
*یوه کاپي باید شرکت سره وساتل شي.*
◀ کارپوریشن

## د مؤقت نوم سرټیفیکیټ
یو فورم دئ او یوازې هغه وخت اړینه ده چې د سوداګرۍ نوم د سوداګرۍ مالک څخه توپیر ولري.
*د ناحیې کاتب سره باید ثبت شي*
◀ انفرادي سوداګرۍ ◀ عمومي شراکت
◀ هر هغه تجارت چې د خپل قانوني نوم څخه په بل نوم فعالیت کوي

## د تأسیس سرټیفیکیټ
یو سند دی چې د شرکت نوم او آدرس مشخص کوي. د شرکت شتون د شرکت د تأسیس سرټیفیکیټ فایل کولو تاریخ سره یا وروسته تاریخ (د فایل کولو تاریخ په ۹۰ ورځو کې) چې د شرکت د تأسیس په سرټیفیکیټ کې مشخص شوي وي پیل کیږي.
◀ کارپوریشن

## د محدود شراکت سرټیفیکیټ
یوه فورم دی چې د هغو شریکانو نومونه او معلومات وړاندې کوي چې د محدود شراکت تړون ته داخلیږي.
*د بهرنیو چارو وزارت ته سپارل کیږي*
◀ محدود شراکت

## د اعلان خپرولو سرټیفیکیټ
هغه فورم چې تاسو د سوګند پاڼو سره یوځای وړاندې کوئ چې تاسو د محدود شراکت یا LLC پیل کولو لپاره د ورځپاڼې خپرونې اړتیاوې پوره کړې (د 19 او 22 مخونو وګورئ). د اعلان خپرولو سرټیفیکیټ باید د اساسنامې او یا محدود شراکت سرټیفیکیټ د فایل کولو د ۱۲۰ ورځو کې دننه ثبت شي.
*د بهرنیو چارو وزارت ته سپارل کیږي*
◀ محدود شراکت
◀ د محدود مسؤلیت شرکت

## I-9، د کار د وړتیا تصدیق فورم
دا فورم د ټولو کارمندانو لپاره ضروری ده ترڅو ثابت کړي چې دوی په متحده ایالاتو کې په قانوني توګه کار کولی شي. ستاسو کارګمارونکی باید د I-9 فورمه ترلاسه کړي او د متحده ایالاتو مربوط چارواکو ته د تفتیش لپاره چمتو کړي.

## عملیاتي تړون
عملیاتي تړون د غړو، مدیرانو، کارمندانو او اجنټانو حقوق، واکونه، ترجیحات او مسؤلیتونه ټاکي. عملیاتي تړون ممکن د شرکت د اساسنامې فایل کولو څخه دمخه، یا ۹۰ ورځو کې دننه لاسلیک شي.
*یوه کاپي باید د LLC لخوا وساتل شي*
◀ د محدود مسؤلیت شرکت

## د شراکت تړون
د شراکت تړون د سوداګرۍ په اړه د هر شریک حقونه او مسؤلیتونه رامنځته او ثابتوي. د مشارکت تړونونه د عمومي شراکتونو لپاره په کلکه وړاندیز شوي او د محدود شراکت لپاره اړین دي.
◀ عمومي مشارکت ◀ محدود شراکت

# سرچينې

## د نيويارک ايالت دولتي ادارې:

### د بهرنيو چارو وزارت، د کارپوريشنونو څانګه، د ايالت ريکارډونه، او UCC

www.dos.ny.gov/corps/

فورمو، ټيمپليټونو او نورو قانوني اسنادو په اړه معلومات چې ممکن په نيويارک ايالت کې د سوداګرۍ پرانيستلو يا پراخولو لپاره اړين وي.

### د امپاير سټيټ پراختيا، د سوداګرۍ مرستې پروګرام

esd.ny.gov/entrepreneurial-assistance-program

د متشبثينو مرستې پروګرام (EAP) په نيويارک ايالت کې په سيمه ايزو ټولنو کې د EAP مرکزونه رامنځته کوي ترڅو هغه اشخاصو ته لارښوونې، روزنې، تخنيکي مرستې او ملاتړ خدمتونه وړاندې کړي چې پدې وروستيو کې يې خپل کاروبار پيل کړی يا د سوداګرۍ پيل کولو ليوالتيا لري.

### د نويو امريکايانو دفتر (ONA)

1-800-566-7636

www.newamericans.ny.gov/business

د نويو امريکايانو دفتر په نيويارک ايالت کې 27 فرصتي مرکزونه لري ترڅو مهاجرينو ته د کوچني سوداګرۍ مرستې په شمول تعليمي او اقتصادي سرچينې چمتو کړي.

### د کوچني سوداګرۍ پراختيا مرکز (SBDC)

1-800-732-7232

www.nysbdc.org/

د نيويارک ايالت د کوچني سوداګرۍ پراختيا مرکز (NYS SBDC) د نيويارک خلکو ته د لوړ کيفيت، وړيا، يا ټيټ لګښت سوداګرۍ مشوره او روزنه د ۲۴ سيمه ايزو مرکزونو د شبکې له لارې هغه اشخاصو ته چې غواړي سوداګرۍ پيل کړي يا د موجوده سوداګرۍ فعاليت ښه کړي، وړيا وړاندې کوي.

## د نيويارک ښار دولتي ادارې:

### د مصرف کوونکي چارو رياست، مالي پياوړتيا دفتر

www.nyc.gov/site/dca/partners/financial-empowerment.page

مالي زده کړه او مشوره ورکول د نيويارک د ټيټ عايد لرونکو خلکو پياوړتيا او ساتنې لپاره چې غواړي خپلې شتمنۍ رامنځته کړي او د خپلو مالي سرچينو څخه بهترينه ګټه پورته کړي. د خوندي او ارزانه بانکدارۍ په اړه معلومات او د عايد وده کونکي ټکس کريډيټ ته لاسرسی هم شامل دي.

### د کوچني سوداګرۍ خدمتونه (SBS)

https://www1.nyc.gov/nycbusiness/

وړيا کورسونه، ورکشاپونه، مشورې، او د هغو متشبثينو لپاره مرسته چې د نيويارک په ښار کې د سوداګرۍ جوړولو، چلولو يا وده کولو ليوالتيا لري.

### د SBS د مهاجرينو سوداګرۍ نوښت

www1.nyc.gov/nycbusiness/article/immigrant-business-initiative

SBS د نيويارک په ښار کې پرته له کوم لګښت د سوداګرۍ کورسونه، مالي مرستې، وړيا (پروبونو) حقوقي خدمتونه، او نور ډير څه په څو ژبو کې وړاندې کوي.

## د نيويارک ښار سازمانونه:

### د بروکلين عامه کتابتون، کوچني سوداګرۍ او متشبث خدمتونه

www.bklynlibrary.org/business/small-business

د بروکلين سرچينې په مختلف ځايونو کې ورکشاپونه، صنفونه او انفرادی مرستې په انګليسي، هسپانوي، روسی او کريول کې د سوداګرۍ پيل کولو، چلولو، او ودې په اړه وړاندی کوي.

### د سوداګرۍ پراختيا مرکز شبکه (BOCNET)

www.bocnet.org

کوچني تصدۍ، د کوچني سوداګرۍ پراختيا شبکه په برونکس، بروکلين، منهاټن، کوينز، سټين ټاپو کې کم خدمت شوی ټولنو ته دوديز سوداګريز خدمتونه لکه د وړو سوداګريزو پورونو، د ماشومانو پالنه په کور کې، 'سوداګرۍ امريکن سټايل' ورکشاپونه، وړاندې کوي او د کډوالو د کوچنيو تصديو پروژه پرمخ وړي.

### د CAMBA کوچني سوداګرۍ خدمتونه

718-287-2600

www.camba.org

انفرادي مشورې، د کوچني سوداګرۍ ورکشاپونه، سوداګريزې مشورې، د نورو کوچنيو سوداګريزو پراختيايی شريکانو سره اړيکې، او سوداګريز پورونه.

### د ټولنې د پراختيا پروژه، د حقوقي مرستو ټولنه

212-426-3000

www.legalaidnyc.org/civil-practice-pro-bono-projects

د ۵ ښارګوټو په اوږدو کی د مدافع وکيلانو او د مراجعينو وړ خلکو لپاره ټرينينګونه دايروي. د کوچني سوداګرۍ پيل کول، د سوداګريز اجارې لاسليک کول، د سوداګرۍ او شخصي شتمنيو ساتنی موضوعات په کې شامل دي. ټرينينګونه په انګليسي او هسپانوي ژبو کې دي.

# سرچينې

### د ښاري زده کړو مرکز (CUP)
www.welcometocup.org
د پيچلو پاليسيو او پروسو د آسانه کولو لپاره د بروشرونو او بوکليټونو په شمول د نيويارک ښار د کارګرانو کوپراتيف لارښود خپرول.

### د هبريو وړيا پور ټولنه
www.hfls.org/loan-programs/microenterprise/
د نيويارک ښار، لونګ آيلنډ، او ويسټچسټر ټيټ او متوسط عايد لرونکي اوسيدونکو ته د سوداګرۍ پيل يا پراخولو لپاره د سود پرته کوچني سوداګرۍ پورونه.

### د ګاونډيو متشبثينو قانون پروژه، د نيويارک ښار عدالت مرکز بار
(main) 212-382-6633
212-626-7383 (وړيا قانوني هوټ لاين)
nelp@nycbar.org
ټيټ او متوسط عايد کوچني متشبثينو لپاره د سوداګرۍ پيل کولو لکه د مالياتو مسلې، ټړونونه او قراردادونه، سوداګريز اجارې مذاکرات، کاپي رايټ، سوداګريزې نښې/ټريډ مارک او پټينټونو په اړه حقوقي خدمتونه وړاندې کوي.

### د رينيسانس اقتصادي پراختيا شرکت
www.renaissance-ny.org
يو ټولنيز پراختيا مالي موسسه ده چې په نيويارک ښار کې د مهاجرينو، ټيټ او متوسط عايد لرونکو ټولنو پرمختګ لپاره وقف شوې او ټيټ سود سوداګريز پورونو او د سوداګرۍ روزنې پروګرامونه وړاندې کوي.

### د حقوقي خدمتونو رضاکاران
347-521-5729
www.volsprobono.org/projects/microenterprise-project
کوچني سوداګرۍ مالکينو او کوچني متشبثينو سره مرسته کوي ترڅو لوړ کيفيت، وړيا حقوقي خدمات کارمندانو او د پرو بونو (وړيا) وکيلانو شبکې ته لاسرسی ومومي.

## د نيويارک ښار کوپراتيف سرچينې:

### د شنه کارګرانو کوپراتيف
www.greenworker.coop
د پنځو مياشتو اوږد روزنيز او ملاتړ پروګرام وړاندې کوي چې د متشبثينو سره مرسته کوي ترڅو د کارګرانو په مالکيت شنه سوداګرۍ ته وده ورکړي او ترکيبي روزنيز (ټريننګ، لارښونه او تخنيکي مرستې) پروګرام نه استفاده وکړي.

### د نيويارک ښار د کارګر کوپراتيفونو شبکه (NYC NOWC)
212-390-8178 (هاټ لاين)
www.nycworker.coop
د کارګر کوپراتيفونو او سوداګريز مهارتونو په اړه د رهبرۍ، ټريننګ، ورکشاپونه، سوداګريز ملاتړ، او تخنيکي مرستې وړاندې کوي.

### د کارګرانو د عدالت پروژه - د نيويارک سړک جوړ کړئ
347-889-6347
www.workersjustice.org
د مهاجرينو د حقونو سازمان، د نورو مسلو ترڅنګ د کارګرانو په مالکيت د کوپراتيفونو پراختيا، ملاتړ، او ودې له لارې د پايښت وړ دندې رامنځته کولو لپاره کار کوي.

## آنلاين وسيلې:

### نيويارک بزنس ايکسپريس
www.businessexpress.ny.gov
ستاسو د سوداګرۍ او مسلکي اړتياو له لارې تاسو سره مرسته کوي. پوښتنليک ډک کړئ او د سوداګرۍ ويزرډ به تاسو ته د هر هغه څه ليست درکړي چې تاسو يې د سوداګرۍ پيل کولو لپاره اړتيا لرئ.

### د نيويارک ښار سوداګرۍ پورټل
www1.nyc.gov/nycbusiness

**ګام په ګام پوښتنليک**
ګام په ګام پوښتنليک ډک کړئ او د ښار، ايالت او فدرالي جوازونو او پرمټونو دوديز ليست چې ممکن په هغه سکتور کې چې سوداګرۍ پيل او چلولو ته اړتيا ولرئ ترلاسه کړئ.

**ټکس کريډټ اټکلول**
پوښتنليک ډک کړئ او د احتمالي دولتي عوايدو او ټکس کريډيټ ليست ترلاسه کړئ چې ستاسو سوداګرۍ ته برابر وي.